وحيد فقيری

3 سپتمبر 2008م

# تر طالبانو را وروسته"د جېمز ډابنز د کتاب کره کتنه

د امريکا پخوانی او با تجربه ډيلومات او د افغانستان لپاره دجمهورريس بوش خاص استازي، سفير جېمز ډابنز، د افغانستان د رواني وضعي او په هغه هيواد کي د خپلو تجربو او کارنامو په باب کتاب ليکلی دی. د کتاب عنوان " تر طالبانو را وروسته "دی چي په کال ۲۰۰۸ کي په ۱۷۹ مخونو کي خپور سوی‌دی. سفير جېمز ډابنز چي د ملتونو په جوړولو او خارجي سياست کي ژوره سابقه لري، د کوسووو، هېتي، بلکان، او نورو ملکونو کي د امريکا په مشرۍ دملت جوړولو چاري اداره کولې. د همدې سابقې او تجربې په خاطر ، جمهورريس بوش په کال ۲۰۰۱ کي ښاغلي ډابنز ته په افغانستان کي د طالبانو پر ځای د يو بل نوي حکومت د جوړولو لپاره انتخاب کی. هغه د بن په کانفرانس کي، د امريکا خاص او مشر سياسي استازی وو . ډابنز او خليلزاد په ګډه په همدې کانفرانس کي د افغانستان د انتقالي حکومت خبنته او اساس کوږ کښېښود. که څه هم، د ښاغلي ډابنز نيت ښه ښکاري، خو په عمل او پاليسۍ کي يې افغانستان ته ډېر زيات سياسي تاوانونه ورسول. د ډابنز له کتاب څخه څرګندېږي چي هغه سخت په بېړه کي وو، او غوښتل يې چي ژر تر ژره د طالبانو پر ځای يو بل حکومت جوړ سي، او خپله واشنګټن ته را ستون سي.. ښاغلی ډابنز د افغانستان د نوي حکومت د محتوا او شکل په غم کي نه وو؛ پدې غم کي هم نه وو چي امريکا د چا سره ايتلاف کوي؛ ددې پروايي هم نه لرله چي متحده ايالات د افغانستان په نوي حکومت کي د شمال د جنګي جنايتکاران تقويه کوي؛ او هغه ددې پروا هم نه لرله چي د متحده ايالاتو همدا غيرمعقول او خطرناکه ايتلاف به بالاخره د افغان ولس مطلق اکثريت د امريکا د نيت او سياست په ارتباط بدبين کړي .لنده دا چي ډابنز او خليلزاد دواړو د ديموکراسۍ، د قانون د حاکميت، د ثبات، او د پرمختګ د پروسې سره ستره جفا وکړه. ښاغلی ډابنز د خليلزاد آمر وو، او وروسته يې خليلزاد د افغانستان د سفارت لپاره ونوموی .

د ډابنز کتاب "تر طالبانو را وروسته" نيم د يوه مشهور او پخواني امريکايي ډيلومات خاطرات دي؛ نيم د افغانستان د انتقالي حکومت دجوړېدو د مهمو پېښو او لمړينو ګامونو د فيصلو يو لنډ تاريخ دی؛ او نيم هم د هغو مهمو سياسي اشتباهاتو نوټ دی چي د کزري د حکومت اډاني يې له اوله سره لړزانه کړې. د بن په کانفرانس کي، د مسعود بانډ ته تر بل هر چا زياته سياسي ونډه ورکړه سوه. فهيم ته دفاع وزارت، عبدالله ته خارجه وزارت، او قانوني ته داخله وزارت ورکړه سوه. د شمال دايتلاف ډلګيان د انتقالي حکومت په مهمو پوستونو کي تخته سول. دکابل حکومت په تمامه مانا د مسعود د باند په لاس کي ورکړه سو. په بل عبارت، له لمړۍ ورځي څخه ددغه حکومت د مشروعيت، ملي صبغې،او قانونيت په باب افغانان شکمن سول.

که څه هم، ليکوال همدې انتقاد ته متوجه دی او پخپل کتاب کي وايي: د مسعود پلويان يوازنۍ افغاني ډله وه چي عسکر يې درلودل؛ د کابل امنيت يې ټينګولای سوای؛ او امريکايي مخصوصو عسکرو او د سي ای ې سره يې د طالبانو په راپرځولی کي مرسته کولای سوای. مګر د ښاغلی ډابنز لمړی دليل او استدلال کمزوری او کوږ دی. موږ ټولو ته څرګنده ده چي د شمال ايتلاف د طالبانو د رانسکورولو جوګه نه وه، بلکي ددې احتمال ډېر وو چي د کال ۲۰۰۱ په اخرو کي به مسعود د تاجکستان په کولاب کي د زمردو او د مخدره موادو د قاچاقو د مرکزونو ستر "امر صاحب " سوی وای. خو د القاعدې قاتلانو د سپتمبر د يوو لسمي تروريستي حمله وکړه، او هر څه بدل سول. سمدستي طالبان سټ، القاعده په سموڅو، غارونو، او تونلونو کي له ډاره لړزېدله، افغانستان فتح ،او په سپيني ماڼۍ کي دسوبي بې وخته او مضحک جنشونه پيل سول .

ددې کتاب اهميت پدې کي دی چي کتاب د يوه مشهور امريکايي ډيلومات لخوا د افغانستان د تاريخ او سياسي تحولاتو پر هغې زمانې باندي ليکل سوی چي خپله ليکوال ددغه تحولاتو په سمبالولو کي _ پرته له مبالغې څخه_ اساسي رول لوبول دی. بلخوا، د ښاغلي ډابنز د کتاب " تر طالبانو را وروسته" بل اهميت پدې کي دی چي خپله سفير ډابنز د افغانستان په ارتباط د جمهورريس بوش پر پاليسيو باندي سخت انتقاد کوي. دغه راز، په کتاب کي دمتحده ايالاتو د خارجه وزارت او د دفاع د وزارت د سياليو او ا ختلافاتو په باب هم ډېر زيات مواد راغونډ سوي دي. ډابنز د دفاع د وزير، ډالنډ رمزفيلډ، څخه ډېر سرټکوي. ليکوال وايي چي د دفاع وزارت د بهرنيو چارو د وزارت مسوليتوته هم


افغان جرمن آنلاين شما را صميمانه به همکاری دعوت می نمايد. لطفاً به آدرس ذيل با ما تماس بگيريد
maqalat@afghan-german.de

غضب کړي وه. د دفاع وزارت هر څه خپله کنټرولول، او هيڅ ډول مخالفت يې نسو زغملای. د بوش حکومت له اوله سره د افغانستان لپاره ډېر لږ پيسي تخصيص کړي وې. د بوش حکومت د افغانستان د بیاودانولو په ارتباط سخت خسيس او سوګت وو.

بايد وويل سي چي قريب شپېته کاله پخوا، د امريکا جمهورريس ايزناور د خپلي دوري په وروستي وينا کي د امريکا د نظامي صنعتي طاقت په اړه امريکايانو ته خبرداری ورکړی وو. د هغه مطلب دا وو چي په جنګي شرايطو کي _ حتی په ديموکراتو ملکونو_ هم کېدای سي چي پوځي صنعتي طاقت، نفوذ، قرار دادونه ، پيسي، او منابعي دونه قوي سي چي د حکومت نوري څانګي تر خپل تاثير لاندي راولي. نن ورځ، د بوش او د هغه د نيوکان ملګرو له بده شامته په متحده اياالاتوکي د فقيد جمهورريس هاېزناور خبره ريشتيا سوی ده .

ډابنز د بن د ناکامه او مضر کانفرانس اصلي طراح او ناظم وو. په همدې کانفرانس کي د افغانستان د راتلونکي حکومت خښته په لمړی ورځ کږه کېښېښودل سوه چي تر اوسه پوري همدا سياسي عمارت کوږ، لړزانه، او ور ځ په ورځ نامشروع کيږي. د بن په کانفرانس کي، د افغانستان او افغانانو مشهورو دښمنانو_ د مسعود جنايتکاره باند_ ته دونه درنه سياسي ونډه ورکړه سوه چي د متحده اياالاتو په ملاتړ د کرزي د حکومت د مشروعيت او قانونيت بېخ وايست. ښاغلی ډابنز پخپله د همدې ستري سياسي غلطی په باب ليکي چي موږ څکه د شمال ايتلاف ته په راتلونکي حکومت کي غټه ونډه ورکړه څکه چي په کابل کي بله قوه نوه. د شمال ايتلاف کابل ونيو. واقعا، هغوی د کابل په ښار کي پوځي حاکميت لاره. نوبنا، موږ نسوای کولای چي دهغوی د سياسي او نظامي شتون څخه سترګي پټي کړو .

مګر واقعيت دا دی چي د بوش د اداري تر ټولو لويه او نه بخښونکي سياسي غلطي همدا وه چي د مسعود باند ته يې ددې چانس برابر کی چي کابل ونيسي. د تاريخي اسنادو په شهادت، د شمال ايتلاف له ډاره پر کابل نسوای ور تلای. طالبانو د مسعود له ډلي څخه زړه ايستلی وو. هغوی مجبوره سوي وه چي د طالبانو له ډاره د تاجکستان په کولاب کي د مخدره موادو په قاچاق شپي او ورځي تېري کړي. د متحده اياالاتو د بهرنيو چارو د وزارت په وينا، "مسعود يوه ختمه او ماته پوځي قوه وه." د ډابنز همدا ستره سياسي اشتباه ښايي د هغه د کار او خدمت په دوره کي د هغه تر ټولو غټه خطا وي. ښايي ډابنز وکړای سي چي خارجيان په همدې کمزوري منطق قانع کړي، خو افغانان د شمال ايتلاف پېژني او دغه ساده او کمزوری استدلال او منطق يې نسي قانع کولای.

څکه د افغانانو هيله دا وه چي کابل بايد په هيڅ ډول د مسعود ډانګيانو ته نه وای تسليم سوی. د مسعود توپونو ، ټانکونو، او لوټمارانو کابل تخريب او سټ کړی وو. د افغانستان ګرده خلک د مسعود د همدې جنايت شاهد دي. تاريخ د همدې تباهکاری شاهد دی. او لنډه داچي د کابل وران او سټ ښار د مسعود د همدې نه بخښونکی جنايت شاهد دی. کله چي د بوش په کابينه کي د کابل د نيولو په باب بحثونه وران وه، د هغه وخت خارجه وزير، کولن پاول، د کابل د بې وسلي کولو پلوي کوله. هغه غوښتل چي کابل د ملګروملتونو او يا بلي خارجي قوي تر نظارت او ساتني لاندي سي، او پرې نه ښودل سي چي د شمال ايتلاف يو ځل بيا پر کابل باندي مسلط سي. مګر له بدمرغه د ښاغلي پاول همدا صايب او مقعول نظر د بوش په کابينه کي رمزفيلډ رد کی. نتيجه دا سوه چي وروسته له اوو کلونو څخه يو ځل بيا افغانستان ناکراره، بې ثباته اوپه جنګونو کي ډوب دی.

اصلي خبره دا وه چي د امريکا د دفاع وزارت نه غوښتل چي افغانستان ته ډېر امريکايي عسکر واستوی څکه چي د بوش اداري سمدستي د عراق د اشغالولو توطيه وتړله. د افغانستان د نيولو او دطالبانو د رژيم د رانسکورولو سره سم، بوش او دهغه جګړمارو نيوکان ملګرو خپله توجه د عراق لوري ته واړوله او غوښتل يې چي صدام حسين راوپرځوي .همدا، لمړی دليل وو چي رمزفيلډ په خورا سرتمبه ګی د کابل د بې وسلي کېدو مخه ونيوله، او د مسعود باند ته يې ددې فرصت برابر کړ چي کابل اشغال کړي.

بل دليل يې داوو چي دمتحده اياالاتو د دفاع په وزارت او سي اې ې کي نظر دا وو چي پښتانه طالبان دي، او په هر ډول چي کېږي بايد پښتانه له قدرت څخه ليري وساتل سي .څرنګه چي طالبانو اسامه بن لادن او د القاعدې قاتلانو ته د سپب ځای برابر کړی وو، بنا د بوش اداري د ګردو پښتنو سره دښمني را واخيسته او غوښتل يې چي پښتانه په هر ډول چي وي مجازات، توهين ،او بې واکه کړي. ددغه شيطاني پلان د عملي کېدو لپاره د شمال ايتلاف او بې واکه کرزي


افغان جرمن آنلاين شما را صميمانه به همکاری دعوت می نمايد. لطفاً به آدرس ذيل با ما تماس بگيريد
maqalat@afghan-german.de

مناسب او ایډل خلک وه. ډابنز لیکي: د بن د کانفرانس په افتتاحیه ویناوي کي یوه وینا هم په پښتو نوه چي دا واقعیت پخپله دا ښیي چي هلته د پښتنو ونډه څونه کمه وه .

ښاغلی ډابنز د کرزي او فهیم هغه مشهور مکالمه پخپل کتاب کي راوړي چي کله کرزی په دوو لاسو او پښو کابل ته ورسېد. کله چي کرزی له کندهار څخه په تلوار کابل ته رسېږي، فهیم په حیرت له کرزي څخه پوښتنه کوي:"ستا عسکر چیري دي؟" کرزی په جواب کي وایي: " تاسو زما عسکر یاست." حال داچي همدئ فهیم کرزی د مسعود-رباني په دوران کي بندي او سپک کړی وو. (١٠٤) ښاغلی ډابنز لیکي: همدا د کرزي د مشرتابه او سیاسي درایت یو ښه بېلګه ده. خو واقعیت دا دی چي همدا پېښه د کرزي ساده ګي او سیاسي کم عقلي ښیي. پکار دا وه چي کرزي له کندهار څخه حرکت نوای کړی، او له امریکایانو څخه یې غوښتي وای چي تر هغه وخته پوري چي د شمال ایتلاف قاتلان په کابل کي وي، هغه به کابل ته ور نه سي. کرزي باید په لمړۍ ورځ کي مشري، ستراتیژیک فکر، او سیاسي درایت ښودلی وای. خو له بده مرغه، په کرزي کي له همدغو کیفیتونو څخه یو هم نسته. په جنګي شرایطو کي، ښرمښانو ته ځان سپارل، پوره سیاسي حماقت وي. په غلو او ډانګیانو وطن سائل، د ساده ګانو کار وي.

ډابنز لیکي چي ډاکتر عبدالله په لمړیو ورځو کي را ته وویل چي کرزي دافغانستان د نوي حکومت دمشرۍ لپاره مناسب سړی دی. هغه لیکي چي نورو خارجي ملکونونو لکه ترکیې، پاکستان، ایران، روسیې او ځینو اروپایي ملکونو هم د کرزي د کاندیدۍ ملاتړ کاوه .

ښاغلی ډابنز د بن په کانفرانس کي د روسانو د نفوذ او اهمیت په باب لیکي: رباني نه غوښتل چي د بن د کانفرانس سره همکاري وکړي. همداراز، هغه نه غوښتل چي له جمهوري ریاست څخه لاس واخلي. ډابنز ادامه ور کوي او لیکي دغه مشکل د رفع کولو لپاره ما د روسانو سره تماس وینو او هغوی ته مي وویل چي رباني خو ستاسو سړی دی، تاسو پر هغه څه باندي فشار واچوئ چي کارونه ژر خلاص سي. هغه وایي: روسانو راته وویل چي فکر مه کوه. روسانو کابل ته تیلفون وکړ، او رباني ته یې ویلي وه چي که چیري همکاري و نه کړي، مرستي به پر بندي کړي. ډابنز وایي: څو ساعته وروسته له کابل څخه خبر راغلی چي" رباني هر څه مني." (٩٤)

د شمال د ایتلاف په باره کي بیا وایي: قانوني وویل چي یو خو به دري واره مهم وزارتونه زموږ وي او بل داچي په کابینه باید دوې برخي هم شمال ایتلاف ته ورکړه سي ، ځکه موږ جنګ کړی دی او دا نورو ډلو_ دپاچا ډله، د قبرس ډله، او دپېښور ډله_ جنګ ندی کړی. ډابنز لیکي: موږ څو ځله قانوني ته وویل چي دا نوري ډلي ستاسو دا غوښتنه نه مني، خو قانوني نه قانع کېده. لیکوال وایي: ما د ایران استازي ، ظریف، ته وویل چي دا قانوني خو ستاسو سړی دی. تاسو پر ده باندي څه فشار واچوئ څو دا خنډ ایسته سي. ځکه زه غواړم چي ژر واشنګټن ته ولاړ سم او بل دا چي واشنګټن هم غواړي چي ژر تر ژره د افغانستان لپاره یوه انتقالي اداره ترتیب سي. ښاغلی ډابنز لیکي: د ایران استازي ، ظریف، را ته وویل چي چرت مه وهه، موږ دا ستونزه دستي فیصله کوو. بله ورځ چي مجلس پیل سو، قانوني بیا هغه زړې بابولالی شروع کړې. ما ظریف ته وکتل. ظریف سمدستي ولاړ سو او قانوني ته یې وویل چي ته راسه، ما او تا به د اطاق په یوه ګوټ کي څه خبري سره وکړو. قانوني یې یوکنج ته کی، او وروسته له یوې دقیقي څخه قانوني بېرته مېز ته راغلی او وې ویل: زه ستاسو سره موافق یم، او هر ډول چي ستاسو خوښه وي هغسي به کېږي. (٩٦)

ښاغلی ډابنز لیکي: په کابل کي د حکومت تر جوړېدو وروسته زما وظیفه هم خلاصه سوه. زما څخه غوښتل سوی وه چي له مخالفانو څخه یو حکومت تشکیل کړم. ما همدا کار وکی. ما د افغانستان دنوي حکومت د لوړي په مراسمو کي برخه واخیسته. ما د کرزي او نورو عالي رتبه مامورینو سره وکتل. مګر خبره دا ده چي ښاغلی ډابنز حکومت جوړ نه کړ. څه چي ډابنز وکړه هغه داچي یوه ډله غله، وطن دښمنه، او قاتلان یې پر افغانانو باندي تحمیل کړل. د کرزي پر اداري باندي د حکومت کلمه اېښودل، د همدغي کلمي سره جفا ده. د کرزي اداره په هیڅ وجه حکومت کېدای نه سي. ډابنز غواړي چي په دوو ګوتو لمر پټ کړي. ډابنز غواړي چي خپله ناکامي پټه کړي. مګر د افغانستان اوسني بحراني حالات دامریکاد پالیسیو ناکامي ښیي. (کوږ بار تر مزله نه رسېږي.) والسلام


افغان جرمن آنلاین شما را صمیمانه به همکاری دعوت می نماید. لطفاً به آدرس ذیل با ما تماس بگیرید
maqalat@afghan-german.de